(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو مياشتو نه کور ته د هغهٔ راتګ خپل سُپکاوے نهٔ ګڼي. اوس مېراباڼ هلته ډکې منګولې ځي.

(اے پليتې نړۍ!)

مور ئې هم ډېره غاړه پسې نهٔ وړي. خو خپله پړه نهٔ مني. هغه د سندهـ د يؤ پېژندلي خېل سره تړون لري. تربور مربور به ئې ورور له پېغور هم ورکوي، خو بيا هۍ هۍ پليتې نړۍ! پېغور پېغور دے خو د مېراباڼ ډکې منګولې.

مونږ نه دا ځنګه هېر شوي دي، چې سبتهـ هغه ورځ خپله ماڼۍ کښې زرکه ؤليدله اؤ بيا پسې ورپېښن نهٔ شولو. مېراباڼ دا ګڼل، چې هغه شپه په زرکه غوټه کېدونکے په ښار کښې ؤوژلے شو اؤ د هغهٔ هاغه دغه د هغهٔ نه غوښ شوے د هغهٔ په ځُلهٔ کښې ورکړے شوے ؤ، نو ګنې دا ډېره وه؟ مېراباڼ پوهه نهٔ ؤ، چې سبتهـ هغه مړے په شړق هم نهٔ ويشتلو. نن چې مېراباڼ کور کښې نشته، سبتهـ د هغهٔ انګڼ ته ورغلو. د خپلې کوټې په درشل ولاړې زرکې چې ځنګه ؤليدلو، نو دننه لاړه اؤ ښکاري په کوټره شُخوند پسې ورننوتلو. دا خو ښه وه، چې سميتا ليدلے ؤ اؤ دا ښه وه، چې د سبتهـ سره ټوپک ګرځوونکي بهر ولاړ وو. سميتا چې کوټې ته ورننوتله، نو سبتهـ بيا زرکه کټ کښې ځملولې وه اؤ کميس ئې ترې شلولے ؤ. خُداے دې دوي په نېکه واړوي، خو پرتوغا ښې اچوئ کنه!!!

سميتا په ځاے د دې چې د سبتهـ لاس نيولې وو، د هغهٔ په پښو پُرېوتله اؤ ؤ ئې وې،

